مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د غبرګولي ۲۸مه | د ۲۰۱۹ د جون ۱۸مه | دریم کال| ۳۸۹یمه ګڼه

## حضرت علي: داعش ته په ننګرهار کې په منظم ډول اکمالات کېږي



۳

### د ولسمشر غني ناکاره شوې اقتصادي تګلارې

۲ مخ

### د افغانستان او ایران د سرحدي سیالیو مخینه


۲ مخ

### صداقت ستاسو غوره ملګرى دى

۵ مخ

### خبره

۴ مخ




## د ننګرهار په جنګ ځپلې ولسوالۍ بټي کوټ کې لسګونه پروژې پیل شوې دي



د ننګرهار په جنګ ځپلې ولسوالۍ بټي کوټ کې د ۲۱ ښوونځیو په ګډون، د پوهنې، کرنې، کلیو پراختیا او په ځینو نورو برخو کې د رغنیزو پروژو چارې پیل شوې دي. چارواکي وايي، دا پروژې د سکتوري ریاست په مشرۍ د کلیو پراختیا، پوهنې او کرنې ریاستونو له لوري پلې شوې دي.

د ننګرهار سکتوري رییس فضل ربي حمیم په خبره، په دغو پروژو کې ۲۱ ښوونځي، ۱۴ کیلومتره سړک، ۱۲۰۰ متره استنادي دېوالونه او ۲۴ ځاګانې دي چې د راتلونکو څو میاشتو په موده کې به بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.

د ننګرهار د کلیو بیارغونې او پراختیا رییس انجنیر مجیب الرحمن ضیا ویلي، یادې پروژې د ولسي تړون برنامې له لارې پلې کېږي چې تر ډېره د ولس په خوښه او د هغوی د اړتیا مطابق پلان شوې دي.

## حکمتیار: د بد حکومت له لاسه هره ورځ درې سوه افغانان قرباني کېږي

د غبرګولي تر لومړۍ نېټې وروسته د ولسمشر غني د کار دوام په تړاو د نیوکو په دوام، د حزب اسلامي مشر او د ولسمشریزو ټاکنو نوماند ګلبدین حکمتیار هم د جوزا تر لومړۍ نېټې وروسته، د حکومت د کار دوام د قانون خلاف بللی دی.

حکمتیار پرون په کابل کې یوې غونډې ته د وینا پر مهال وویل، د ملي یووالي حکومت باید په خپله دوره کې شفافو ټاکنو ته زمینه برابره کړې وای او واک یې بل حکومت سپارلی وی، چې دا کار یې ونه کړ او په غیر قانوني توګه یې واک ته دوام ورکړ.

حکمتیار ویلي: «د څو مهمو ملي مسایلو په ارتباط سوله، انتخابات، د جوزا تر لومړۍ وروسته د ملي وحدت حکومت د واک د ختمېدو ستونزه او دې ته ورته نورو ستر ملي مسایلو باندې باید ګډ تصمیم ونیول شي، داسې چې ټولو ته د منلو وي چې د ملي یووالي حکومت دا کار ونه کړ».

نوموړي ویلي، په دې وروستیو کې امنیتي وضعیت تر بل هر وخت خراب شوی، چې د ۵۹ ورځو په اوږدو کې ۱۴ دیني عالمان یوازې په ننګرهار ولایت کې وژل شوي او هره ورځ د ۳۰۰ په شاوخوا کې افغانان وژل کېږي.

حکمتیار داسې مهال د ملي یووالي حکومت د غیر قانوني واک پر دوام او بد امنیتي وضعیت په اړه نیوکه کوي چې تر دې وړاندې د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو شورا هم له جوزا وروسته د حکومت د کار دوام غیر قانوني بللی و او د کار د دوام په صورت کې یې د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو د تحریم خبرداری ورکړی.

## د طالب زندانیانو له خوشي کولو باید د ټاکنیز کمپاین په توګه استفاده ونه شي



۲ مخ

## ممکن اختلاف میان اعضای ولسی جرگه امروز از طریق رای گیری حل خواهد شد



قرار است امروز در صورتی صحت و عدم صحت «یک رای جنجالی» انتخابات ریاست جرگه از طریق رای گیری مشخص خواهد شد که جرگه، نخست روی سری و علنی بودن رای گیری توافق کند.

این در حالی‌است که از گشایش دور هفدهم تقنینی شورای ملی، حدود یک و نیم ماه می‌گذرد؛ اما تا حال در حالی بنا بر اختلاف‌ها میان اعضا در مورد انتخابات ریاست جرگه، این جرگه رئیس و هیئت اداری ندارد.

انتخابات گذشته ریاست این جرگه، میان کمال ناصر اصولی و میر رحمان رحمانی برگزار شد؛ اما به دلیلی نتیجهٔ آن مشخص نشده که اعضای جرگه در مورد نصاب جرگه در روز انتخابات اختلاف نظر دارند؛ برخی‌ها آن را ٢٤٤ و تعدادی هم آن را ٢٤٧ تن می‌دانند.

تا حال برای حل این معضل، سه هیئت توظیف شده؛ اما مشکل را حل کرده نتوانسته است.

اما نعمت الله کریاب نماینده مردم کنر در ولسی جرگه، بعد از ختم نشست دیروز در صحبت با رسانه‌ها در صحن شورای ملی گفته است که اکثریت اعضا به شمول طرفین (اصولی و رحمانی) موافقه کرده اند که فردا(امروز) در نتیجهٔ انتخابات، صحت و عدم صحت این رای جنجالی مشخص خواهد شد.

او افزوده است که اعضای جرگه در نخست تصمیم می گیرند که این انتخابات به گونه سری باشد یا علنی؟ و بعد از آن به رای گیری می‌روند.

WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think It, We Can ink it.
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دریـــځ

## د ولسمشر غني ناکاره شوې اقتصادي تګلارې

کله چې په ۲۰۱۴ ز کال کې محمد اشرف غني کاندید و، د نورو ژمنو تر څنګ یې په اقتصادي برخه کې هم سترې ژمنې وکړې. خلکو هم اشرف غني ته د یوه اقتصاد پوه په سترګه کتل، چې زموږ په اقتصادي حالت کې به بدلون راولي. نوموړي به ویل چې یو میلیون کسانو ته کار پیدا کوم، افغانستان د اسیا پر څلور لارې بدلوم، افغانستان د منځنۍ او جنوبي اسیا ترمنځ پر پله بدلوم، د خلکو په دسترخوان کې بدلون راولم، لویې پروژې پیلوم، اوبه مهاروم، لوی بندونه جوړوم، د افغانستان میوو او نورو کورنیو تولیداتو ته مارکېټ پیدا کوم، د ننګرهار سبزي فرانسې ته وړم، بادام اروپا ته وړم، انار امریکا ته وړم او نورې همداسې لویې ژمنې به یې کولې. دا دی د ولسمشر قانوني وخت پوره دی، خو د نورو برخو تر څنګ، په اقتصادي برخه کې د ده ژمنې نه دي پوره شوې او اقتصادي تګلارې یې ناکاره شوې دي. ولسمشر نه یوازې یو میلیون کسانو ته کار پیدا نه کړ، بلکې سلګونه زره کسان یې وزګار کړل. افغانستان یې نه یوازې د اسیا پر څلور لارې بدل نه کړ، بلکې د خپل ناکاره سیمه ییز سیاست له امله یې هېواد د رقابتونو او جګړې پر څلور لارې بدل کړ. د خلکو د دسترخوان ډوډۍ یې نیمه کړه. خدمات یې کم، خو مالیه یې لوړه کړه. د اوبو د مهارولو لپاره یې له خبرو پرته په عمل کې هېڅ ونه کړل او یوازې د نورو حساسیت یې را وپاراوه. زموږ میوې لا هم بې ارزښته دي او همدا اوس د فراه یوه کیلو هندوانه په یوه افغانۍ پلورل کېږي او هېڅ بازار یې ورته پیدا نه کړ.

ولسمشر هوایي دهلیزونه جوړ کړل چې په تاوان چلېږي او تاوان یې هم USAID ورکوي، چې دا بیا له حکومت سره په مرسته حسابوي. د لاجوردو د لارې سندرې وېل کېدلې، خو یوازې شپږ لارۍ ترکیې ته ولاړې چې په هر ځای کې به یې عکسونه اخیستل او د سترې لاسته راوړنې په توګه به یې یادول. شپږ لارۍ د یوه هېواد پر اقتصاد څه اغېز لري او څه داسې پکې بار دي چې څوک پرې حساب وکړي!؟ له چین سره د رېل ګاډي خبره وه، رېل ګاډی راغی او بېرته ولاړ، خو هېڅکله بیا را ونه ګرځېد. د ټاپي، کاسا زر او توټاپ خبرې خو لا هم خیالي کیسې دي، چې پر ځمکه یې څرک نه ښکاري. د ډالرو پر وړاندې د افغانیو بیه را لوېدلې ده او اوس یو ډالر تر ۸۰ افغانۍ پورته پلورل کېږي، په داسې حال کې چې د ولسمشر غني د واک په پیل کې ۵۰-۵۳ پورې و. له هېواده میلیاردونه ډالره ایستل شوي دي او د سوداګرۍ خونې په وینا چې یوازې په تېرو دریو میاشتو کې ۱۴۰۰ سوداګرو خپلې پانګې له هېواده ایستلې دي. د پانګونې په برخه کې هېڅ د حساب وړ کار نه دی شوی او هر پانګه وال هڅه کوي چې خپله پانګه وساتي.

له بده مرغه اشرف غني افغانستان له یوه واقعي اقتصادي بحران سره مخ کړی او د خلکو هغه هیلې یې تر خاورو لاندې کړې دي، چې د یوه اقتصاد پوه په توګه یې له نوموړي لرلې. له بده مرغه ولسمشر د نورو چارو تر څنګ، په اقتصادي برخه کې هم له سختې ناکامۍ سره مخ شوی چې زیان یې د افغانستان خلک پرې کوي. د نورو چارو تر څنګ، د نوموړي اقتصادي تګلارې هم ناکاره او مسخره شوې دي.

# د افغانستان او ایران د سرحدي سیالیو مخینه

لیکنه: داوود جنبش/ بي بي سي پښتو

څه باندې یوه پېړۍ وړاندې، پر ګڼه پوله د افغانستان او ایران د پوځي ټکر بېړني خبر له لندنه ترپېټرزبورګه، له قاهرې تر انقرې او له کلکتې تر مدینې د سیاستوالو او څارونکو غوږونه څک کړي وو.

دغه مهال ایران د روس او برېټانیا ترمنځ د دوه اړخیز تړون له مخې د هغوی د نفوذ په سیمو وېشل شوی و. شمال یې د روسانو او جنوب یې د انګرېزانو تر عملي کنټرول لاندې و. دغه راز عثماني ترکیې یې هم ځینو سیمو ته لاسونه غځولي وو.

د ایران خپل کورني حالات د مشروطه غورځنګ په ټوکېدو څپ څپانده شوي او په هره سیمه کې یې یوه واکمن او یوه ټولواک د مشرۍ دعوه درلوده.

افغانستان؛ که څه هم کورواک و او د ایران خلاف یې په خاوره کې بهرني پوځیان نه درلودل، خو په بهرنۍ تګلاره کې یې د انګرېز بې اجازې یو ګام هم نه شوای پورته کولی.

په داسې یوه سیاسي او جغرافیایي چاپېریال کې د افغانستان او ایران د پوځي مخامختیا خبر ډېرو ته وېښوونکی و. په دغو خبرونو کې ظاهراً افغانستان تېری کوونکی ښودل شوی او تور لګېدلی چې د ایران د کمزورتیا په کارولو غواړي په سیستان کې پرمختګ وکړي.

داسې کوم رسمي سند چې وښیي افغانستان دې د انګرېز یا روس له خوا د دغه «تېري» په اړه سپیناوي ته اړشوی وي، نشته؛ خو په کابل کې د خپرېدونکې سراج الاخبار ورځپاڼې له غبرګونه دا اټکل کېدلی شي، چې دغسې یو فشار هرومرو پر کابل راغلی دی. ورځپاڼې د لومړي کال په ۱۸مه ګڼه (د ۱۹۱۲ جون) کې د سرحدي شخړې په اړه په لومړۍ ځل ولیکل: «د ورځپاڼو په ډېرو مخونو کې د سیستان له لوري د ایران د لوړ دولت پر مځکه د افغانستان د خدای پېرزو کړي لوړ دولت د پوځیانو د برید خبرونه راغلي او خپاره شوي چې ټولو یې له رښتیني حاله په بې خبرۍ کې خبرې هسې اوردې کړې دي».

مانا دا چې افغانستان تېری نه دی کړی، نو اصلي خبره څه وه؟ د سراج الاخبار په همدغه ګڼه کې وړاندې لولو: «...عجیبه لا دا ده چې د افغانستان پر خاوره دایران د بې واکمنه خپلسرو وسله والو ډلو پر تېري هېڅا هم خبره ونه کړه او د تېري پړه یې د افغانستان پر دفاعي حالت واچوله. په داسې حال کې چې که د انصاف او رښتیاوو په سترګو وکتل شي، جوتېږي چې د افغانستان لوړ خدای پېرزو کړي دولت په دې تړاو څومره صبر او زغم کارولی دی».

خو دا بحثونه همدلته نه بشپړېږي. ظاهراً د لندن ټایمز ورځپاڼه په یوه مقاله کې دا کړکېچ د چارلس ډاروین د «بقا مجادلې» له قانون سره سم بولي، چې افغانستان یې پر خپل پرځېدلي ګاونډي ایران یرغل ته هڅولی دی.

د «بقا مجادلې» اصطلاح د سراج الاخبار د مدیر محمود طرزي پام ور اړوي او د خپلې ۲۱مې ګڼې سرمقاله د همدغه قانون روښانولو او سپړلو ته ځانګړې کوي او لیکي: «سبحان الله! د حیات د محاربې دا اخ و ډب، یعنې د ژوندانه لپاره جنګېدل بشریت ته لکه یو لوی غم چې وي! نه یوازې بشریت؛ چې ټول طبیعي عالم د ژوندانه لپاره په دې مبارزه کې په قتل او قتال اخته او جنګېدلو او نښتلو ته چمتو وینو!

ځمکنې داړونکې ژوي، هوایي څېروونکې مارغان، سمندري خوړونکې نهنګان؛ له هوسیو او کوترو او کبانو سره له پلرونو ورپاتې څه میراثي تربګنې او څه سیالي او څه ناسازې لري او د ځمکې پر میراث یا بل څه یې ترمنځ کومه دعوه ټوکېدلې، چې د پیدایښت له پیله تر دا اوسه یو بل څېري، داړي او خوري؟

نه نه! . . . نه یې ترمنځ کینه شته او نه دعوه! بلکې دا (د ژوندانه لپاره یوه شخړه) ده او بس».

تر سرمقالې وروسته، طرزي بېرته د سیستان پرسر د افغانستان او ایران اخ و ډب ته ستنېږي. د سیمې په تاریخ کې په پلټنې پسې لیکي، چې په اصل کې ټول سیستان د افغانستان برخه و، بیا لاس په لاس شوی او په پای کې په ختیځو او لوېدیځو برخو وېشل شوی، چې لومړۍ هغه یې چې لویه ده، د افغانستان او دویمه یې چې کوچنۍ ده، د ایران په خاوره کې راغلې ده.

په افغاني سیستان کې د فراه او نیمروز ولایتونه راځي. په دغه سیمه کې د کابل ضد وروستیو وسله والو خوځښتونو او په پارولو یې د ایران تورنېدو یو ځل بیا د دغو دوو هېوادونو د اړیکو تاریخ ته پام ور واړاوه.

دغه اړیکې د نورو ګاونډیو په پرتله، د ۱۹۱۲ ز کال له اخ و ډب او ځینو نورو جلا پېښو سره سره، تر ډېره سوله ییزې پاتې شوې. ایران په شپږو ګاونډیو کې لومړنی او یوازینی هېواد دی، چې له افغانستان سره یې د اوبو د وېش رسمي تړون لاسلیک کړی دی. د دغه تړون له مخې تهران ژمن شوی چې د هلمند په اوبو کې د حق په بدل کې، افغانستان ته د چابهار له لارې سمندر ته د وتلو لار ورکړي او له هغه ځایه د افغانستان تر سیستانه د اورګاډي پټلۍ وغځوي؛ هغه کار چې د افغانستان کورنیو شخړو یې د پلي کېدو مخه ونیوله.

البته د «لوی ایران» پلویان هم کم نه دي چې افغانستان «خپله خوړه جلا شوې برخه» بولي. ځینو ته همدا تړاو په افغانستان کې د لاسوهنو پلمه اېښېدلې، یا لږ تر لږه پر دغه بنسټ د لاسوهنې تورونه پورې شوي دي. بله موضوع د اوبنیو زېرمو د وېش او سرحدي نښو ده. د ایران مورخانو او چارواکو بیابیا ادعا کړې، چې سیستان ټول د ایران برخه وه او د انګرېز منځګړي پلاوي یې په خیانت یوه برخه د شلمې پېړۍ په پیل کې افغانستان ته ورکړه. په دغه سیمه کې له طالب وسله والو سره د تهران د لوجستیکي او پوځي مرستو وروستي تورونه چې تهران او طالبانو دواړو رد کړي، د زېرمو او ځمکو پر سر همدغو دعوو او سیالیو ته ورګرځي.

### د ۱۹۱۲ ز کال شخړه څنګه وټوکېده؟

لوېدیځو او ځینو اسلامي ورځپاڼو فراه ولایت ته څېرمه د اخ و ډب پړه هغه مهال د افغانستان پر پرمختیا غوښتونکې تګلارې اچولې وه. ان د هند ځینو ایران پلوو ورځپاڼو هم دغښې نظر درلود. په دغو ورځپاڼو کې یوه حبل المتین وه، چې په فارسي ژبه په کلکته کې خپرېده.

دغه ورځپاڼه د خپل شلم کال په نهمه ګڼه کې، پر کابل او تهران دواړو غږ کوي چې د اسلامي نړۍ لپاره پر دې حساس مهال له خپلمنځي شخړو لاس واخلي. د حبل المتین اشاره په بالکان او لیبیا کې د عثماني تُرکیې پر مستعمرو د یونان، بلغاریا او ایټالیا بریدونو (۱۹۱۱- ۱۹۱۲) او د روس او انګرېز له خوا د نفوذ پر سیمو د ایران وېشلو (۱۹۰۷) ته وه. ورځپاڼه لیکي: «روښانه ده چې که عثماني تُرکیه تر پښو لاندې شوه، ایران تر پښو لاندې شوی دی او که ایران تر پښو لاندې شي او ایران پاتې نه شي، افغانستان هم بېخي پاتېدلی نه شي، که په سیاسي اصولو وي او که د اسلام د نوغي د ساتلو په نامه د ایران او افغانستان چارواکو ته بویه، چې پرې نه ږدي سرحدي شخړې پېښې شي او د سرحدي چارواکو بې ځایه هیلې خبره داسې ځای ته ورسوي، چې دواړو لورو ته زیان واوړي».

حبل المتین لیکي، مهمه نه ده چې څوک پړ دی او څوک وړ، جګړه دواړو لورو ته زیان اړوي او ځکه درول غواړي.

سراج الاخبار هم له کابله دغه غږ ته غبرګون ښیي او د حالاتو د لا روښانولو لپاره خپل دوه خبریالان یو په هرات او بل په چخانسور یا اوسني نیمرزو کې ګوماري چې سیمې ته ورشي او د خپلو سترګو لیدلی حال د خپرېدو لپاره ور واستوي.

دواړه رپوټونه په زړه پورې او د حساسو تاریخي شواهدو درلودونکي دي، چې دلته راوړل کېږي.

### د چخانسور د خبریال رپوټ

(سردار خداداد خان سیستانی) چې د ایراني سیستان په مخورو مشرانو کې راځي، د جمادي الاول میاشتې په لومړۍ نېټه له خپلو ګڼو وګړو سره پر پوله راوښتی او د افغانستان په خاوره کې یې پر (وکدیله) کلي چې په (فتح کلا) کې پروت دی، یرغل ور وړی او د افغانستان د لوړ دولت له اتباعو څخه یې د سلو کورونو مالونه تالا او لوټ کړي دي او پر دې یې هم بسنه نه ده کړې او د وګړو عزت او ناموس ته یې هم لاس غځولی او د(محمد خان) په نامه د کلي د یوه مخور کس مېرمن او لونډې یې تښتولې دي.

دا موضوع په یوه اونۍ کې د عاجل ډاک له لارې د چخانسور د حاکم او سرحد وال جناب حاجي شېردل خان او د دغه ځای د پوځي عسکرو د برګېډ جناب غلام احمد خان له خوا وړاندې او ورسره جوخت د هغو ځانګړو زده کړو له مخې چې کړې یې دي، د منظمو لښکرو درې پوځي بلوکه او یو توپ هغې سیمې ته چې (دشت خوابګاه) نومېږي، واستول شول.

دغو عسکرو ایراني سیستاني لنډغر وټکول او غوږونه یې ورتاو کړل او دوی یې له خپلو مورچلو چې په بې ننو او د دواړو لورو ترمنځ په لانجمنه سیمه کې یې جوړې کړې وې او د لاسوهنې په بڼه پکې ناست وو، لرې او پورته کړل او دغه راز بلوک مشر لوړپرتمی شېرمحمد خان له عبدالصمد خان سره د سیستان حاکم ښاغلي جناب حشمت الملک ته واستول شول او له دغه حاکم نه له سردار خداداد خان نه د اښتنو پوښتنو او د محمد نومي له مېرمنې او لونډو سره یو ځای د افغاني وګړو د ټولو لوټ شویو مالونو ستنول وغوښتل شول.

په چخانسور کې افغان خبریال خپل رپوټ په دې ګواښنې بشپړ کړی، چې په سیمه کې افغان ولس پاربدلی او د ایراني سردار په دغه کړنه خورا ناخوښه دی. د چخانسور د خبریال نوم یاد شوی نه دی، خو د هرات خبریال د خپل رپوټ په پای کې د نامه لومړني توري «م. ص» ښیي.

### په هرات کې د سراج الاخبار د ځانګړي خبریال موندنې

د سراج الاخبار دا خبریال خپل رپوټ د ایران پر حالاتو له یوې لنډې تبصرې پیلوي، چې څنګه پکې مشروطیت او د بهرنیو هېوادونو لاسوهنو او پوځي شتوالي نظم او اداره له منځه وړې او په کړاوونو یې اخته کړی دی. وروسته لیکي: «د ایران سرحدي وګړو د خپل متبوع دولت د زور او نظم له نشتوالي ګټه پورته کړه. څه موده د مخه د ایران بلوڅ پوونده وو د (قلعه کاها) او (انادرې) له لوري د څرځایونو لپاره د افغانستان د لوړ دولت پر خاوره تېری وکړ او دغه راز تر دې لږ وړاندې د ایران د (قاینونو) ځینو وګړو پر برزخ (صفري) سیمه تېری کړی. د افغانستان د خاورې پولې ته څېرمه یې له هېڅ شرعي او نظامي حق پرته، د ځینو ځمکو آبادول او کرل پیل کړي چې دا کارونه له یوې مخې د ملګرتابه او ګاونډیتوب له حقونو سرغړونه بلل کېده او تر اوسه کله هم داسې یو څه نه وو پېښ شوي.

طبیعي ده چې د افغانستان د لوړ دولت سرحدي ځواکونو د دغو پردیو یرغلګرو مخه ټینګه ونیوله او ویې شړل، نو پر دې بنسټ د دواړو لوړو دولتونو ترمنځ سیاسي لیکونه پیل شوي چې موږ یې هغه نور لیکونه چې د خراسان او سیستان د بهرنیو چارو د مسوول ښاغلي جناب حاجي (نبیل الملک) له خوا په مشهد کې د افغانستان د خدای پېرزو کړي دولت د وکیل التجار جناب عبدالله خان په لاس لوړې همایوني درشلې ته وړاندې شوي، او هغه ځواب او لارښوونې چې له لوړې سلطنتي پلازمېنې نه د هرات ښاغلي نایب الحکومه ته رسېدلي، تر دې مهاله لا تر لاسه کړي نه دي چې که وروسته په لاس راغلل در وابه یې ستوم؛ خو د ځینو نورو رسمي پاڼو له څېړنې، چې د نایب الحکومه ګۍ او مرکز او وکیل التجار ترمنځ تللي او راغلي دي، کره شوې چې تېری په اصل کې د ایران له خوا شوی؛ نه دافغانستان له خوا .

دا کره خبر هم تاسې ته درلېږم چې یوه عذرپاڼه د ښاغلي حشمت الملک او د ایراني لښکرو د مشر له خوا ښاغلي نایب الحکومه صاحب ته رارسېدلې، چې د سردار خداداد خان له خوا یې پر شوې خطا بښنه غوښتې او د فساد پړه یې د دغه سردار پر کشر ورور او تربرونو اچولې او د هغوی د غوږونو د تاوولو او د پړوني د ناغې په ډول یې له یوه اوښ سره د محمد خان نومي د مېرمنې او لونډو د بېرته سپارلو لیکلی خبر ورکړی دی.

د دغو دوو رپوټونو تر خپرولو وروسته، محمود طرزي د دغه اوږده مطلب په پای کې د تبصرې په ډول کاږي: «دا دی پر پېښپاڼو د تا ویلو ماویلو رښتینی حال چې د اسلامي نړۍ د یووالي پلویانو ته یې اوږدې اندېښنې او اټکلونه وراچولي دي. سیاسي حقوق پوهان به راسره ومنې چې په دې مسئله کې زموږ سپېڅلي متبوع دولت د ګاونډیتوب په برخه کې هوښیاري او درنښت او له ایراني دولت سره پر داسې یوه نازک مهال د شخړې د نه پارېدو لپاره خورا صبر او زغم کړی دی او که نه نو د خداداد خان حق ناپېژاندي او سپین سترګي کارونه چې د مالونو په وړلو او پر عزت او ناموس یې د تېري په برخه کې خپله پوره لنډه غري او شوکماري ښودلې، داسې څه نه دي چې افغانستان یې وزغملي شي.

## حضرت علي: داعش ته په ننگرهار کې په منظم ډول اکمالات کېږي



د ولسي جرگې غړي حضرت علي ویلي، په ننگرهار ولایت کې داعش ډلې ته په منظم ډول اکمالات کېږي.
نوموړي چې د ننگرهار په دره نور ولسوالۍ کې یوې غونډې ته وینا کوله، ویلي چې داعش پلان لري چې د ننگرهار ولایت په شېرزادو ولسوالۍ کې تر فعالیت وروسته، د دغه ولایت حصارک او د لوگر ولایت ازرې ولسوالۍ له لارې کابل ته ځان ورسوي.
حضرت علي ویلي، داعش د کونړ ولایت ډېری او غرنۍ سیمې نیولې او اوس یې دره نور ولسوالۍ ته لار پیدا کړې ده، چې حکومت یې باید له وړاندې د فعالیتونو مخه ونیسي.
دغه راز د ننگرهار د دره نور ولسوالۍ اوسېدونکو هم د داعش جنگیالیو د حضور او د هغوی د فعالیتونو پر زیاتوالي اندېښنه ښودلې ده.
په ولسي جرگه کې د ننگرهار د خلکو استازي حضرت علي زیاته کړې: «د داعش برنامه دا ده چې د حصارک ولسوالۍ ونیسي، د لوگر ازره ونیسي، سروبي ته ورسېږي او د لغمان سره دغه خط وصل کړي».
په ورته مهال، د ننگرهار د دره نور ولسوالۍ اوسېدونکي هم په دې ولسوالۍ کې د داعش فعالیتونو اندېښمن کړي او له حکومت څخه د دې ولسوالۍ لپاره د جدي پاملرنې غوښتنه کوي.
بلخوا د ننگرهار د ولایتي شورا غړي سهراب قادري هم ویلي چې په دغه ولایت کې د داعش گواښ جدي دی او حکومت باید له وړاندې د دوی د فعالیتونو د زیاتوالي د مخنیوي لپاره تدابیر ونیسي.
نوموړي زیاته کړې: «که چېرې دلته دښمن ځای پر ځای شو، نو پولیس بیا د دې توانمندي نه لري چې دوی له دې سیمې نه وباسي، نو له همدې کبله حکومت باید له وړاندې خپل تدابیر ونیسي».
په ورته وخت کې د ولسي جرگې غړي حضرت علي ویلي، ځینې مشخصې کړې داعش او طالبانو ته اکمالات کوي او حکومت یې باید مخه ونیسي.
نوموړي ویلي، داعش هڅه کوي چې دره نور ولسوالۍ ناامنه کړي او له دې لارې ځان ښېوې ولسوالۍ ته ورسوي.
بلخوا په ننگرهار کې د ملي اردو چارواکو ویلي، هېڅاته اجازه نه ورکوي چې ولس ته ستونزې جوړې کړي.
په ننگرهار کې د ملي اردو د څلورمې لېوا درستیزوال ډگروال قنداغا ساپي ویلي: «موږ په ولس باندې د هېچا له لوري ظلم نه منو، که هغه د داعش له لوري وي یا د طالب او یا هم د دولت له لوري».
په دره نور ولسوالۍ کې د داعش د فعالیتونو په تړاو اندېښنې داسې مهال دي، چې تردې مخکې دې ډلې په شینوارو او خوگیاڼو ولسوالیو کې خلکو ته درانه مالي او ځاني زیانونه اړولي وو.
د یادونې ده چې داعش ډلې په کونړ ولایت کې هم خپلو فعالیتونو ته زور ورکړی او څه موده وړاندې د دغه ولایت اوسېدونکو ویلي وو، چې یاده ډله په کونړ کې د ځوانانو پر جلب او جذب بوخته ده او پر امنیتي پوستو د بریدونو لپاره تیاری نیسي.

## کډوالو چارو وزارت: پاکستان دې په دغه هېواد کې د مېشتو افغان کډوالو د اوسېدو نېټه وغځوي



د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت وایي، هیله لري چې پاکستان به په دغه هېواد کې د افغان کډوالو د اوسېدو نېټه وغځوي.
دغه وزارت یادې څرگندونې په داسې حال کې کوي، چې د روان زېږدیز کال د روانې جون میاشتې په ۳۰مه، په پاکستان کې د افغان کډوالو د قانوني اوسېدنې نېټه پای ته رسېږي.
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مرستیال ویاند رضا باهر له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې پر همدې موضوع د خبرو او په څو اړخیزو ناستو کې د گډون لپاره د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر عالمي بلخي د یو پلاوي په مشرۍ، د پاکستان پلازمېنې اسلام اباد ته رسېدلی دی.
هغه زیاته کړې چې په دغه پلاوي کې د دغه وزارت اړوند رییسان هم شامل دي. رضا ویلي چې په اسلام اباد کې به د کډوالو په اړه څو اړخیزې غونډې کېږي، چې پکې افغان پلاوی هم گډون کوي.
د نوموړي په خبره، د کډوالو په اړه څلور اړخیزه غونډه د افغانستان، پاکستان، ایران او ملگرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ ترمنځ، بله درې اړخیزه غونډه د افغانستان، پاکستان او ایران ترمنځ او همدا راز بله درې اړخیزه غونډه، د افغانستان، ایران او د کډوالو عالي کمېشنرۍ ترمنځ او بله دوه اړخیزه غونډه د افغانستان او پاکستان ترمنځ کېږي.
هغه ویلي چې د پاکستان او افغانستان ترمنځ په کېدونکې غونډه کې به په دغه هېواد کې د افغان کډوالو د قانوني اوسېدنې مودې پر غځولو خبرې کېږي او هیله یې څرگنده کړې چې پاکستان به دا موده وغځوي.
نوموړي زیاته کړې چې په نورو ناستو کې هم د افغان کډوالو پر ستونزو، په خپله خوښه افغانستان ته د هغوی پر ستنېدو او د کډوالو اړوند نورو موضوعاتو خبرې کېږي.
بلخوا پاکستاني رسنیو خبر ورکړی چې په دې ناستو کې د گډون لپاره د ایران د کورنیو چارو وزارت مرستیال حسین ذوالفقاري هم اسلام اباد ته رسېدلی دی. سرچینې زیاته کړې چې افغان او ایراني پلاوو په اسلام اباد کې د پاکستان د کډوالو او سرحدونو چارو وزارت له چارواکو سره لومړۍ ناستې کړې دي.

## اروزگانیان: که حکومت خپلسري عملیات او چاپې بندې نه کړي، بدې پایلې به ولري

د اروزگان اوسېدونکو د یوې اعتراضیه غونډې پر مهال په دغه ولایت کې وروستي عملیات خپلسري بللي او د درېدو غوښتنه یې کړې ده.
دا په داسې حال کې ده چې د دغه ولایت په مرکز ترینکوټ کې له تېرو څو ورځو راهیسې، د امنیه قوماندان په مشرۍ چاپې وهل پیل شوي چې په ترځ کې یې د امنیې قوماندانۍ پخوانی د امنیت امر، د لویې لارې د ساتنې کنډک قوماندان او ځینې نور کسان له وسلو او نورو توکو سره یو ځای نیول شوي دي.
خو اعتراض کوونکي دغه چاپې د اروزگانیانو د نیولو لپاره سیاسي دسیسې بولي او ټینگار کوي چې باید ودرول شي.
د اعتراض کوونکو له ډلې قومي مشر معلم رحمت الله ویلي چې په وروستیو چاپو کې ټول هغه کسان نیول شوي، چې ۱۸ کاله د دولت په دفاع کې جنگېدلي او قربانۍ یې ورکړې دي.
هغه ویلي، امنیتي چارواکي د دې پر ځای چې هغوی وغواړي او ورسره شته ستونزې هوارې کړي، پر کورونو یې چاپې وهي او په بېلابېلو نومونو یې تورنوي.
دغه راز یوه بل قومي مشر حاجي قسیم ویلي چې د ملي یووالي حکومت له اروزگانیانو سره سیاسي لوبه کوي او په دې وروستیو کې د دغه ولایت د نفوذ لرونکو کسانو د نیولو لپاره یې چاپې پیل کړې دي.
اعتراض کوونکي گواښ کوي چې که دولت په دغه ولایت کې د پخوانیو امنیتي مسوولینو او نفوذ لرونکو کسانو له نیولو څخه لاس وانه خلي، بدې پایلې به ولري.
همدارنگه په دغه اعتراضیه غونډه کې د ولایتي شورا مرستیال



عبدالکریم کریمي د ولایت رهبرۍ کمزورۍ او د حالاتو کابو کېدو کې پاتې بللې ده.
هغه ویلي، تر دې وروسته چې هر ډول ناوړه حالت رامنځته کېږي، مسوولیت به یې د دولتي کسانو پر غاړه وي؛ ځکه دولت په لوی لاس سیمه طالبانو ته خوشې کوي او د طالب ضد کسان نیسي.
بل لور ته د یادو څرگندونو په اړه د اروزگان د امنیې قوماندانۍ او ولایت مقام چارواکو له څه ویلو ډډه کړې.

## پامپیو: امریکا به له هرې ممکنه لارې له هورمز تنگي د تېلو ازادانه لېږد ډاډمن کړي



د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو له فاکس نیوز سره په مرکه کې یو ځل بیا پر ایران تور پورې کړی، چې د خلیج په اوبو کې یې د تېلو پر ټانکرونو برید کړی.
دا په داسې حال کې ده چې د تېرې پنجشنبې په ورځ د عمان په خلیج کې د ایران د سواحلو په ۲۵ کیلومترۍ کې د تېلو دوې لېږدوونکې بېړۍ تر برید لاندې راغلې او اور یې واخیست.
پامپیو له فاکس نیوز سره په خبرو کې ویلي، چې په یاد برید کې ایران لاس درلود او په خبره یې چې امریکا به له هرې ممکنه لارې د هورمز له تنگي د تېلو ازادانه لېږد ډاډمن کړي.
نوموړي زیاته کړې: «موږ به په هورمز تنگي کې ازادانه بېړۍ چلونه ډاډمنه کړو. دا یوه نړیواله ستونزه ده او ټولې نړۍ ته مهمه ده. امریکا متحده ایالاتونه به دا یقیني کړي چې دغه هدف ته د رسېدو لپاره ټول اړین ډیپلوماټیک او غیر ډیپلوماټیک گامونه واخیستل شي».
د هورمز تنگی چې د نړۍ درېیمه برخه تېل له دې لارې تېرېږي، یوې غاړې ته یې د ایران هرمزگان او بلې غاړې ته یې د عمان مُسَندَم ولایت پروت دی.
ایران له هغه وخته چې د امریکا له بندیزونو سره مخ شوی، تل یې د دغه تنگي د تړلو گواښ کړی دی.
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر دا نه دي ویلي چې د هورمز تنگي د خوندي ساتلو لپاره پر کومو لارو فکر کوي او یا دا چې له ایران سره به څه کوي.
پامپیو ټینگار کړی چې ایران د عمان په خلیج کې د دوو بېړیو په چاودنه کې لاس لري.
نوموړي زیاته کړې: «دا بریدونه د ایران اسلامي جمهوریت له خوا د یوه روښانه هدف په خاطر پر نړیوالو سوداگریزو انتقالاتو او د سوداگرۍ پر ازادۍ شوي. هغه هدف د هورمز تنگي له لارې د تگ راتگ مخنیوی دی».
دا په داسې حال کې ده چې د پامپیو تر خبرو مخکې د سعودي عربستان ولیعهد محمد بن سلمان هم ایران تورن کړ، چې د عمان په خلیج کې یې پر دوو بېړیو برید کړی دی.
هغه له شرق‌الاوسط ورځپاڼې سره په یوه مرکه کې ویلي، سعودي عربستان په سیمه کې جنگ نه غواړي، خو د خپلو خلکو، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي حاکمیت په خاطر د هر ډول گواښ دفاع ته ولاړ دی.
بلخوا د ملگرو ملتونو امنیت شورا هم په عمان خلیج کې پر یادو بېړیو برید غندلی دی.
خو د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف بیا د امریکا دغه تورونه چې گواکې دا بریدونه ایران کړي، رد کړي دي.
جواد ظریف په ټویټ کې لیکلي چې امریکا په بېړه او له شواهدو پرته، ایران د تېل وړونکو بېړیو پر برید تورن کړی دی.

## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز

◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### دولسم څپرکی
### موخې د ودې لپاره وکاروئ




دی د هغو بوډاګانو غوندې نه دی چې خپلې ځوانۍ پسې ګوتې مروړي.

انسان چې نوره یوه هیله هم و نه لري (ربښتینې موخې) ورته د ژوند هیله ورکوي. مېرمن (ډي) زما د پوهنتون د یوه ټولګیوال مور ده. زوی یې دوه کلن و چې دا سرطان ونیوه. مېړه یې درې میاشتې مخکې په نامعلومې ناروغۍ مړ شوی و. ډاکټرانو ورته د ژوند لږه هیله ورکړې وه، خو ښځې ځان دې حالت ته نه تسلیماوه. ځان سره یې هوډ کړی و چې له مېړه پاتې دوکان به چلوي او خپل زوی به پوهنتون ته لېږي. ډاکټرانو یې څو ځله جراحي وکړه او هر ځل به یې ورته ویل چې: (یوازې څو میاشتې به ژوندی یې.)

که څه هم د ښځې سرطان ښه نه شو، خو دا څو میاشتې شلو کالو ته ورسېدې. زوی یې له پوهنتونه فارغ شو او دا بیا شپږ میاشتې وروسته مړه شوه. یوازې د مورنۍ مینې او عاطفې یوه هدف د دې ښځې عمر دوه لسیزې وځنډاوه.

موخې وټاکئ چې ژند مو اوږد شي. په نړۍ کې د کار کولو تر مینې بل هېڅ شی د انسان ژوند نه اوږدوي.

په دې مسائلو ډاکټران تر هر چا ښه پوهېږي.

هوډمن انسان بریالی کېږي. لومړی باید پر دې پوه شئ چې پرمختګ تدریجي کېږي. کور خښته په خښته جوړېږي. کرکټ د یوه یوه بال لوبه ده، یو یو بال کېږي او لوبه تر اخره رسي. دوکان په یوه یوه پیرودونکي مشهورېږي. میلیون له یوې یوې پیسې جوړېږي او بلاخره څاڅکی څاڅکی دریاب کېږي. هر لوی بری د څو وړو بریاوو ټولګه وي.

اریک سوارید مشهور لیکوال او خبریال دی، ده په ریډرز ډایجسټ (اپریل ۱۹۷۵) مجله کې لیکلي: ما په ژوند کې تر ټولو لوی نصیحت د (د بل کیلومتر اصل) اورېدلی دی، خبره یې داسې کړې وه چې: (دویمه نړیواله جګړه کې راباندې الوتکه خرابه شوه، ما او همکارانو مې پراشوټ وکړ او د هند و برما ترمنځ په ځنګلو کې ولوېدو. د ژغورنې ډله څو اونۍ وروسته راغله، خو موږ تر هنده ډېر سخت مزل کړی و. موږ دوه سوه څلوېښت کیلومتره مزل وکړ، سخته ګرمي وه او په دې غرنۍ لاره کې راباندې موسمي بارانونه هم پیل شول.

څنګه چې روان شو، زما په موزه کې یو مېخ و، هغه مې پښه سورۍ کړه. د شپې مې پښو کې د وینو خاپونه پیدا شول. دا دوه څلوېښت کیلومتره لاره مزل مې په خوږو پښو کولای شوی؟ ځینې نور ترما ډېر خراب وو، هغوی به دا مزل څنګه کولای؟ پر دې قانع شوي وو چې نه کېږي. خو موږ وکړ، موږ په ګوډو پښو له پولې واوښتو او همدا یو کار مو کولای هم شوی.

بیا مې چې د دوه سوه او پنځوس زره کلیمو لرونکي کتاب د لیکلو لپاره دنده پرېښوده، نو دا ټوله طرحه مې ذهن کې نه شوی راوړلای. ځکه ما دنده پرېښوده، هغه ویاړ را ښنلو او زه له دې دندې په پرېښودو وېرېدم. ما هڅه وکړه چې په ورپسې پاراګراف فکر وکړم، نه په ورپسې څپرکي او ورپسې پاڼې. په دې توګه مې شپږ میاشتې پرله پسې کار وکړ، یو پاراګراف مې ولیکه او بلاخره کتاب بشپړ شو. څو کاله وړاندې مې د ورځني پلان لیکلو او پلې کولو مسئولیت واخیست چې ورو ورو دوه زره پاڼو ته ورسېد. که هماغه وخت کې یې راسره د دوو زرو پاڼو لیکلو قرارداد کولای، نو نه مې اخیست، ځکه دا راته ډېر لوی کار ښکارېده، خو ماته یې ویلي وو چې هره ورځ یوه لیکنه کوه او تر اخره مې همداسې یوه لیکنه کوله.) که د (ورپسې کیلومتر) اصل دې سړي ته په ګټه و، نو تاسې ته هم ګټه لري. هرې موخې ته د رسېدو یوازینۍ لاره دا ده چې ګام په ګام به ځئ. د سګرټو او نورو عادتونو پرېښودلو لپاره ما له ملګرو یوه ګټوره طریقه د (ساعت په ساعت) اورېدلې ده. مثلاً که تاسې سګرټ پرېږدئ، نو دا فکر مه کوئ چې سګرټ به په یو دم څنګه پرېږدئ، بلکې دا فکر وکړئ چې په یوه ساعت کې به سګرټ نه څکوئ. یو ساعت چې پوره شو بیا د سګرټ نه څکولو هوډ یو بل ساعت ته وغځوئ، دا بیا همداسې ورځو، اونیو، میاشتو او بلاخره عمر ته رسېږي. کوم انسان چې په یو ځل عادت پرېږدي، پکې نه کامېږي، ځکه دا یو روحي فشار پیدا کوي او هغه انسان ماتوي. یو ساعت ډېر زر تېرېږي، خو ټول عمر سخت وي.

د هېڅ کار لنډېز نشته، هر کار کې باید ګام په ګام مخکې لاړ شو. لویو اجرایي مدیرانو ته که وظیفه هر څومره بې ارزښته وي، خو د مخکې تګ لپاره یې باید یو فرصت وګڼي. پلورونکی هم باید د خرڅلاو مدیریت لپاره لومړی اړین مهارتونه زده کړي. هره وینا ویناوال، هره ازمېښت څېړونکي او هر کنفرانس مدیر ته یو فرصت دی چې خپلو موخو ته پرې یو ګام نږدې شي.

ځینې وخت داسې ښکاري چې انسان به یو دم بریالی شي، خو که موږ یې تاریخچه وګورو، نو د برې لپاره لومړی قوي بنسټونه رامنځته شوي دي. څوک چې بری او شهرت څومره زر ترلاسه کوي، هومره زر یې بېرته له لاسه هم ورکوي، دا هغه خلک دي چې قوي بنسټونه یې نه دي رامنځته کړي. ښه ژوند داسې جوړېږي، لکه ښایسته کور چې له یوې یوې خښتې جوړېږي.

دا کار وکړئ: په کار کې چې کومو وړو وظایفو سره مخ کېږئ، دا د راتلونکي بري لپاره یو فرصت وبولئ. دا پوښتنه ذهن ته وسپارئ او د کارونو په ارزونه کې ترې ګټه واخلئ:

(ایا دا کار راسره موخې ته په زر رسېدو کې مرسته کوي؟) که ځواب منفي وي شاته لاړ شئ او که مثبت وي، مخکې لاړ شئ.


انسان په یو دم نه پورته کېږي، د بري په پوړۍ به ورو ورو پورته کېږي. د چارو ترسره کولو لپاره تر ټولو ښه چاره د میاشتنیو موخو او ژمنو ټاکل دي.

ځان وارزوئ: وګورئ چې د خپلې ګټورتیا لوړولو لپاره څه کولای شئ. لاندې چوکاټ د لارښود په توګه وټاکئ. تر هر اصلي عنوان لاندې د هغو کارونو په اړه یو یادابنت ولیکئ چې تاسې یې په راتلونکې میاشت کې کوئ. بیا یوه میاشت وروسته خپل پرمختګ وارزوئ او نوې میاشتنۍ موخه وټاکئ. تل له وړو کارونو پیل وکړئ چې لویو کارونو ته چمتو شئ.

**دوام لري...**

# احمدظاهر

امان الله «حنیفي»



څلوېښت کاله وړاندې د غبرګولي څلورویشتمه وه، چې د پروان ولایت چاریکارو مرکز روغتون ته یو ټپي ور وړل شو. لږ وخت نه و تېر چې له روغتون څخه د باندې په سلګونو کسان ټول شوي وو، چا دعاوې کولې او چا ژړل چې نه شي د مړینې خبر یې واوري. د ټپي د وینې بهېدو مخه ونه نیول شوه او بد خبر انګازې وکړې. احمدظاهر مړ شو. د غبرګولي په ۲۴مه یې د مړینې ۴۰ کاله پوره کېږي، خو اوس لا هم د احمدظاهر په اړه په ساعتونو خلک خبرې کوي او د نوموړي په اړه د لا ډېر پوهېدو هڅه کوي.

احمدظاهر د افغانستان یو نامتو سندرغاړی، سندرې جوړوونکی، کمپوزر او پېژندلی هنرمند دی. نوموړی د افغان موسیقۍ یو داسې ځلانده ستوری دی، چې د نوموړي له مړینې نیمه پېړۍ وروسته لا هم د هغه د سندرو او هنر مینه وال په افغانستان، ایران، تاجکستان او پاکستان کې شته او د همدغه شهرت او نوم له کبله په افغاني موسیقۍ کې یو سمبولیک شخصیت او د یو ځانګړي ځای خاوند ګڼل کېږي. کله نا کله احمدظاهر ته د دري موسیقۍ د پاچا لقب هم کارېدلی دی. د ډېرو خلکو په اند، د احمدظاهر او اېلوېس پرېسلي (Elvis Presley) د موسیقۍ او ډول تر منځ ورته والی او شباهت لیدل کېږي او له همدې سببه د ځینو په اند، د افغان اېلوېس پرېسلي نوم هم ورته کارېدلی دی. احمدظاهر له غربي موسیقۍ څخه ډېر کمپوزونه کاپي کړي او فارسي ژبې کې یې عملي کړي دي.

احمدظاهر د ډاکټر عبدالظاهر زوی او په ۱۳۲۴ لمریز کال کې د کابل په نوي ښار کې زیږېدلی دی. نوموړی د لغمان اصلي اوسېدونکی او په خټه پښتون دی. احمدظاهر د دغه سندریز ډنډ د لامبو لېوال و، هغه په هنر کې د بندیزونو پروا نه کوله او ځان یې د هنر د شنو اوبو کب وګرځاوه او په سیمه ییزو ژبو او سندریزو څپلونو کې یې غږ و ازمویه. نوموړي د کابل ننداري په یوه جوړ شوي کنسرټ کې د «حبیبیه ستوري» ستاینوم تر لاسه کړ. دغه ستاینوم ظاهر نور هم وهڅاوه، چې د هنر او موسیقۍ لار ټینګه وساتي. احمدظاهر په خپلو سندرو کې تر ډېره بریده پر شعر او کمپوز ټینګار کاوه، همدغه شعر او کمپوز و، چې د احمدظاهر شخصیت یې د یوه ربښتیني هنرمند په توګه راجوت کړ. یوڅه وخت وروسته احمدظاهر له خپل پلار سره هند ته لاړ. په هند کې یې د هنر او موسیقۍ په برخه کې ډېر پرمختګ وکړ او کله چې بېرته هېواد ته راستنېده، له ځان سره یې نوي څېزونه او نوښتونه هم راوړي وو.

د احمدظاهر تر ټولو غوره نوښت دا و، چې د ختیځې او لوېدیځې موسیقۍ د الاتو په ګډون سره یې هېوادنۍ موسیقۍ ته یو نوی رنګ ور وباښه. احمدظاهر چې کله له ښوونځي فارغ شو، په کابل او هندکې یې پیداګوژي (روزنپوهنه) ولوسته او یوڅه وخت یې په «کابل ټایمز» او «افغان فلم» کې کار وکړ. په ۱۳۵۰ لمریز کال کې د احمدظاهر د بخت ستوری راوخوت. هغه د کال غوره سندرغاړی ونومول شو او دغه نوم یې تر ډېره ژوندی وساته. احمدظاهر ۱۳ کلن و، چې ګوتې یې پر هارمونیه، فلوت او اکارډیون روږدې شوې.

احمدظاهر دری ودونه وکړل، خو د ده په خبره، یوه هم نېکمرغه نه کړ. له لومړنۍ مېرمنې څخه یې د احمد رشاد په نوم یو زوی پاتې شو. له وروستنۍ مېرمنې یې د شبنم په نوم لور پاتې ده، چې د نوموړي تر مرګ یوه ورځ وروسته و زیږېده. احمدظاهر د ژوندانه په لوړو ژورو کې له ډېرو ستونزو او خنډونو سره مخ شو، وګوابنل شو، بندي شو، د سندرو شهرت یې د افغانستان له پولو واوښت، له غریبانو سره په مرسته کې یې شهرت درلود، دری ودونه یې وکړل، د یوې مېرمنې د وژلو په تور بندي شو او د خپلې زوکړې پر ورځ په یوه ترافیکي پېښه کې چې ډېر خلک یې توطیه بولي، د پروان ولایت چاریکارو روغتون کې سا ورکړه. نوموړي د ۱۳۵۸ لمریز کال د غبرګولي د میاشتې په ۲۳مه د ۳۳ کلونو په عمر له دې نړۍ رخصت واخیست.

محبوب الله «پاچا» د احمدظاهر له نږدې ملګرو ګڼل کېده. یوه ورځ پاچا، احمدظاهر او د ظاهر دوه خویندې د سالنګ پر لور په مېله ووتل. د تګ پر مهال پاچا پر جلب، احمدظاهر یې ترخنګ او خویندې یې په وروستیو سېټونو کې کښېناستې. موټر په کیڼ لاس په ډېر سرعت سره حرکت کاوه، احمدظاهر د تبلې پر غږولو بوخت و، ناڅاپه یو غټ لارۍ موټر ورسره مخامخ کیږي، موټر له غره سره ټکر کیږي، چپه کیږي او د سیټ یوه اوسپنیزه میله د احمدظاهر پر ککرۍ وربرابرېږي. احمدظاهر لومړی د پروان د چاریکارو روغتون ته وړل کیږي، هلته یې درملنه ناشونې وي، وروسته کابل ته وړل کیږي، خو تر درملنې مخکې ساه ورکوي.

د نوموړي د مرګ په اړه بېلابېلې خبرې کېږي، څوک یې مرګ د ترافیکي پېښې تصادف بولي او ځینې خو دا پېښه ظاهر ته د حکومتي چارواکو له خوا یو جوړ شوی پلان. د کابل د ترافیکو د وخت مدیر» نعیم خان» وایي، پر احمدظاهر د ډزو ادعا غلطه ده، دا یو تصادف و، پر پاچا د جرم اثبات نه کېده، ځکه د جرم داسې څرګنده نښه نه وه، چې هغه مو پرې نیولی وای. د نعیم خان بر خلاف ، ځینې پر دې ګروهه دي، چې پاچا رشوت خوړلی و، احمدظاهر یې په چل سالنګ ته بوت او هلته یې د ګلبهار د نساجۍ د مرستیال «سنګر» په مرسته وواژه او په خپله بهر ته لاړ. د ظاهر د سندرو مینه وال ښاغلی شادان یې بیا د مرګ په اړه وایي: «ډېرې څېړنې وشوې، خو دا ګرانه شوه چې ربښتیا وواېي څه پېښ شول. دا هغه قضیه ده چې له کلونو څېړنو وروسته هم حقیقت ته نه شي رسېدای».

دا چې احمدظاهر مړ شو او که ووژل شو، دا لا د یوې معما په بڼه پاتې ده، خو راتلونکي بهیرونه ښایي د دې پېښې جزیات نور هم بربنډ کړي.

د داسې یو شخصیت ژوند په افغان ټولنه کې چې ډېری مهال دثبتونو او شواهدو تر موندلو ډېر پر روایتونو باور کوي، د بحث او مجلس تودولو لپاره د ډېرو سمو ناسمو توطیوګانو د وړاندې کولو موقع په لاس ورکوي، خو هغه څه چې روښانه دي د احمدظاهر صمیمیت او مهرباني وه او هم هغه شهرت چې انکار ترې نه شي کېدای. لږ سندرغاړي او شاعران شته چې ښایي شهرت او پېژندنې یې کلیو او بانډو ته لار موندلې وي. په څلوېښتمو او پنځوسمو لمریزو لسیزو کې احمدظاهر او د ده دې دورې سندر غاړو له دودیزې افغان موسیقۍ سره دشرقي او غربي سبکونو اشنا کولو ته مخه کړې وه.

د احمدظاهر د سندرو مینوال هراتی نثار احمد نوري د ظاهر سندرې هغه شهکارونه بولي، چې پولې ماتوي. نوموړی وایي: «هر هغه شی چې شهکار اوسي، که هغه په لیکلې بڼه وي او یا هم د هنر ترڅنګ وي، هغه پولې او مرز نه پېژني. احمدظاهر هغه سندر غاړی دی چې اوس هم د خلکو په منځ کې که څه هم فزیکي وجود نه لري، خو معنوي وجود یې شته». د ډېرو موسیقي پوهانو په نظر، د احمدظاهر په غږ کې یو سوز او درد نغښتی و، چې د ډېرو خلکو پام یې ځان ته ور واړاوه. نوموړی نه یوازې په افغانستان، بلکې په نړۍ کې د موسیقۍ په ډګر کې شهرت لري. ظاهر د شرقي او غربي موسیقۍ ترمنځ د پولو ماتولو لپاره ډېره هڅه وکړه. نوموړي به ویل، غواړي له هندي او انګلیسي موسیقۍ سره اصلي پښتو موسیقۍ ته ورته والی ورکړي.

خالص ادیب لیکوال او شاعر د نوموړي په اړه وایي: «واقعي هنرمند هغه وخت په سندره کې د شاعر او خپل احساسات په سهي توګه لېږدلوی شي، کله چې هنرمند په شونډو په ښه توګه د لفظونو نڅولو او ادا کولو ترڅنګ، خپله هماغه دردونه حس او تجربه کړي وي. که موږ د احمدظاهر سندرې اورو، دا راته جوتېږي که ظاهر دردونه تجربه کړي نه وي، خو ښه حس کوونکی او له اورېدونکو سره خواخوږی دی.

زموږ په افغاني سندرغاړو کې د ګوتو په شمېر داسې سندرغاړي شته، چې د خلکو په زړونو کې ځای لري. له هغې جملې څخه خدای بښلی احمدظاهر هم دی چې اوس یې هم سندرې په هوټلونو، موټرونو، تفریحي پارکونو او دوکانونو کې اورېدل کېږي».

احمدظاهر که څه هم په خټه پښتون و، خو یوازې څلور- پنځه پښتو سندرې یې ویلې دي. د نوموړي د موسیقۍ ډلې یو ضرب غږوونکی خلیل راغب وایي: «احمدظاهر ډېره ښه پښتو ویله، په کور کې او همدارنګه د باندې به یې له پښتنو سره په پښتو خبرې کولې».

د ډېرو معتبرو شاعرانو د شعرونو غوراوی د احمدظاهر یوه ځانګړنه وه. هغه په دري، پښتو، هندي او انګلیسي ژبو سندرې ویلې دي. داسې به لږ شونې وي چې د یوه سندرغاړي ټولې سندرې دې ښې وي او یا دې د ټولو مینه والو خوښې وي، خو د احمدظاهر په اړه دا خبره ډېره سمه ښکاري.

د احمدظاهر د سندرو کتابونه خپاره شول، سلګونو سندرغاړو او د سندریزو سیالیو برخوالو د احمدظاهر سندرې وویلې.

د احمدظاهر وروستۍ مېرمن فخریه د نوموړي د انساني صمیمیت په اړه وایي: «څو ځلې یې قبر ته د دعا لپاره ورغلم، چې ګورم یوه بوډۍ یې قبر ته ناسته ده او دعا کوي. ما چې ورته وویل، ته دلته تر ما هم ډېره راځې، ولې؟ بوډۍ ښځې وویل، زما زوی ناروغ و او ما څلور کڅوړې وینې ته اړتیا درلوده. روغتون له پیسو پرته وینه نه راکوله، خو احمدظاهر له یوې خوا راپیدا شو او ماته یې پیسې راکړې. ما ورته وویل چې ته څوک یې، ده ځان راونه پېژانده. ما چې ډېر ټینګار وکړ، نو ویې ویل چې احمدظاهر نومېږم. اوس مې زوی ژوندی ګرځي».

احمدظاهر به له بېسوادۍ سره د مبارزې، سرې میاشې او خیریه موسسو سره د مرستې لپاره کنسرټونه ورکول. تقریباً له هر هغه چا سره چې یو ځل یې لیدلی، د احمدظاهر ښه خاطره شته.

احمدظاهر د ۱۳۲۵ لمریز کال د جوزا په ۲۴مه وزیږېد او په ۱۳۵۸ لمریز کال کې د ۳۳ کلنۍ د زوکړې په ورځ په سالنګ کې په یوه ترافیکي پېښه کې مړ شو، چې تر اوسه هم ډېر کسان یې یو طراحي شوی قتل بولي او ادعا کوي چې د حکومت د ځینو چارواکو لاس پکې و. خو داسې څېړنه او شواهد نه دي وړاندې شوي، چې دا ادعا دې ثابته کړي.

د احمدظاهر مړی په کابل کې د شهدای صالحین هدیره کې د زرګونو ښځو او نارینه وو ویرکوونکو مینه والو د ژړا په بدرګه خاورو ته وسپارل شو. لسیزې وروسته اوس هم د احمدظاهر د قبر لیدو ته ډېر خلک ورځي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰،۸۵ |
| € | ۹۰،۳۰ |
| Rp. | ۵۲۷ |
| ₹ | ۱۱۵۰ |
| ¥ | ۱۱،۴۵ |
| £ | ۱۰۰،۷۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# صداقت ستاسو غوره ملگری دی

ژباړه: حمیدالله حمیدي

د نولسمې پېړۍ مشهور لیکوال، ناتانیل هاثورن لیکي: «هېڅوک نه شي کولی چې د ډېر وخت لپاره په دوو څېرو کې ژوند وکړي او دا ثابته کړي، چې کومه یوه یې اصلي څېره ده». صداقت هېڅ وخت درسره خیانت نه کوي او د نورو پر وړاندې مو مصالحې ته نه پرېږدي. لومړیتوبونو ته مو ور پام کوي. کله چې دوه زړي کېږی، هغه لار درته په گوته کوي چې خیر او بریا مو په کې وي. بله ښېگڼه یې دا ده چې کله یو څوک د حسادت له مخې پر تاسو نیوکه کوي، صداقت مو هڅوي چې خپلې لارې ته ادامه ورکړی او کله مو چې څوک د زړه له تله او د اخلاص له مخې ستاینه کوي، اړ باسي مو څو هغه څه ومنی، چې نور یې ستاسو په اړه وایي. له هغو څخه زده کړه وکړی او نور هم پر مخ ولاړ شی.

**صداقت او رښتینولي ستاسو د ملگرو غوره ملگری دی!**

صداقت او رښتینولي ستاسو د غوره ملگري تر څنگ، ستاسو د ملگرو ملگری هم دی. کله مو چې شاوخوا کسان پوه شي، چې له صداقت څخه برخمن یاست، هڅه کوي چې یو ډول یې باید پر ژوند مثبت اغېز وکړی. ځکه تاسو د دې وړ یاست، چې ژوند ته یې ور داخل شي او خوښۍ یې ور زیاتې کړی. که له باسکټبال سره مینه لری، (رد اورباخ) هرومرو پېژنی. نوموړی له ۱۹۶۹ تر ۱۹۸۷ ز کال پورې د بوسټن سلتیک ټیم مدیر و. هغه پر دې ښه پوهېده چې صداقت او شرافت څه ډول د نورو په خوښیو او ارزښتونو کې زیاتوالی راولي. په تېره بیا که دغه خلک د یوې ډلې په څېر په یوه گروپ کې لوبه کوي. رد اورباخ د لوبغاړو د ټاکلو لپاره بېله تگلاره درلوده، چې د نورو امریکایي روزونکو له تگلارې سره یې بېخي توپیر درلود. کله به چې یوه نوي لوبغاړي غوښتل د بوسټن سلتیک په ټیم کې شامل شي، رد اورباخ ته به یې تر هر څه رول او شخصیت مهم و. په داسې حال کې چې نورو روزونکو به د نوي لوبغاړي سرعت او ځیرکتیا ته ارزښت ورکاوه، خو رد اورباخ به غوښتل د لوبغاړي د فکري طرز په اړه معلومات را ټول او پیدا کړي. هغه پر دې باور و، چې د ټیم د بریا لپاره باید داسې لوبغاړي ولري، چې د لوبې د گټلو لپاره خپل ټول توان په کار واچوي او خپله ټوله هڅه وکړي. هغه لوبغاړي چې له قوي مهارتونو برخمن وو، خو په ټیم کې کم رنگه وو او غوښتل به یې خپل مهارتونه د رخ پر وړاندې ښکاره کړي، له ټیم څخه به یې ایستل.

**باور؛ د شرافت او راستۍ زېږنده دی**

د شرافت او راستۍ گټه دا ده چې خلک در باندې باور کوي. له باور پرته انسان د هېڅ شي څښتن نه شي کېدای. په ورځنیو چارو او دوو اړخیزو اړیکو کې باور تر هر څه مهم دی. باور په اصل کې هغه سرېښ دی، چې نور خلک پر تاسو پورې تړي او باور هغه څه دی، چې تاسو پر یوه اغېزناک کس بدلوي او د نفوذ کچه مو لوړوي. نن سبا خلک باور د یوې وسیلې په توگه کاروي.

د ننني نړۍ خلک لالهانده په یوه لاربښود پسې گرځي. غواړي د هغه چا تر اغېز لاندې راشي چې یوازې باور پرې کېدای شي. دوی داسې کسانو ته اړتیا لري، چې د ښو ځانگړنو درلودونکي وي. که غواړی داسې یو څوک واوسئ چې خلک در باند باور وکړي، نو د صداقت او شخصیت دغه ځانگړنې باید ورځ تر بلې درکې وده وکړي او ژوندۍ یې کړئ.

**د شخصیت دایمي ایډیال اوسئ!**

بشپړ باور هغه وخت رامنځته کېږي، چې خلک پر دې پوه شي چې تاسو څه کوی او همدا راز د ژوند په ټولو شرایطو کې ستاسو شخصیت بدلون نه مومي، بلکې لا ښه کېږي. که خلک پر دې پوه نه شي چې شېبه په شېبه تاسو څه کوی، باور نه شي در باندې کولی.

**له رښتینو اړیکو گټه واخلئ!**

که غواړی خلک در باندې باور وکړي، د یوې ښې سندرې په څېر واوسئ، شعر او اهنگ مو باید همغږي ولري او له یو بل سره سر وخوري.

**پاک او رښتیني اوسئ!**

کله چې خلک پر تاسو باندې د باور کولو هڅه وکړي، لومړی مو عیبونه پلټي. ان که یې تاسو د پټولو هڅه هم وکړی، پیدا کولی یې شي. خو که له خلکو سره رښتیني اوسئ او د کمزورۍ پر ټکو مو اعتراف وکړی، همدا اعتراف او رښتینولي مو خلک ستایي او په دې ډول لا درسره ښه اړیکه ټینگوي.

**متواضع او خاکسره اوسئ!**

که خلک پوه شي چې یوازې د خپلو غوښتنو تر اغېز لاندې یاست، د نورو پر بریاوو نیت بدوی او ځان له نورو غوره گڼی، هېڅکله هم در باندې باور نه کوي.

**له نورو سره مرسته وکړئ!**

تر دې بل غوره څه نشته چې نور تر ځان غوره وبولی. لکه څه ډول چې زیگ زیگلار وایي: «له نورو سره د هغوی په بریا کې مرسته وکړئ. په دې ډول تاسو هم بریالي کېدای شی».

**پر ژمنو مو عمل وکړئ!**

هېڅ وخت له خلکو سره د هغه څه ژمنه مه کوئ، چې نه شی کولی. کله چې وایاست، دا کار درته کولی شم، نو هرومرو یې وکړئ او پر خپله ژمنه عمل وکړئ.

**د خلکو چوپړ وکړئ!**

موږ د دې لپاره نه یو زېږېدلي، چې خلک مو خدمت وکړي، موږ باید د خلکو خدمت وکړو.

وایي، که څوک په سم ډول نه پېژنی، وگورئ چې هغوی له نورو سره څه ډول چلند کوي. کله یې چې رییس په رخصتۍ ځي او یا دا چې فکر کوي د هېچا ورته پام نه دی، څه ډول چلند کوي. خو هغه کسان چې د ښه شخصیت درلودونکي وي، هېڅکله هم د دې ډول مسائلو په اړه فکر نه کوي، بلکې په هر وخت کې په پوره صداقت سره خپلې چارې مخ ته وړي.

**باید شرافت او رښتینولي درسره مله وي!**

کړنې او عادتونه مو لومړی له هغو اصولو سره برابر کړئ، چې عقیده پرې لری. وروسته مو بیا خپلې کړنې له قوانینو سره پرتله کړئ. دا هغه ټاکنه ده چې تاسو یې په واک کې لری.

مخکې له مخکې باید دا پرېکړه وکړئ، چې بیه مو هېڅوک هم نه شي پوره کولی!

ځینې کسان اخیستل کېږي، ځکه د پیسو په بدل کې ځان خرڅوي. پرېکړه وکړئ چې ستاسو شرافت او صداقت د خرڅلاو لپاره نه دی. ډېر واړه شیان شته چې موږ جوړوي او یا مو له منځه وړي. صداقت بیا هغه ځانگړنه ده چې په ورځني ډول باید ښکاره شي. اونۍ په اونۍ، میاشت په میاشت او کال په کال او د ژوند تر اخره باید صداقت درسره وي. که ډېر واړه کارونه هم په صداقت ترسره کړی، هېڅ ممکنه نه ده چې تاسې له دې سمې لارې ووځی.

**مسوولیتونه مو پر خپله غاړه واخلئ!**

د صداقت او رښتینولۍ یوه برخه دا ده چې باید مسوولیتونه مو پر خپله غاړه واخلئ او هرومرو هغه کارونه په خپله ترسره کړئ، چې ستاسو دنده ده. زیگ زیگلار وایي: «که هغه کارونه وکړی چې باید ویې کړی، داسې ورځ به راځي چې هغه کارونه وکړی، چې غوښتل مو ویې کړی». مشهور فیلسوف او ارواپوه وېلیم جیمز وایي: «که هر څوک په ورځ کې دوه هغه کارونه چې زړه یې ترې تور دی او سخت ورته ښکاري ترسره کړي، په کافي انداز به یې تمرین کړی وي». غلام؛ د هغه کسانو لپاره مناسبه کلمه ده چې شرافت او شخصیت نه لري؛ ځکه د نورو د لوبو او ساعترۍ وسیله به وي. خو که شرافت او شخصیت ولری، کولی شی د آزادۍ خوند وڅکی. نه یوازې دا چې هېڅ منفي اړخ به ونه لری، بلکې د نورو لپاره به یوه بېلگه وی. صداقت، شخصیت، شرافت او یووالی درته د بریا پر لور دروازې پرانیزي، څو وکولی شی یوه پر له پسې بریا تجربه کړی.

## عبدالله: د طالب زندانیانو له خوشي کولو باید د ټاکنیز کمپاین په توگه استفاده ونه شي

اجرایه رییس عبدالله عبدالله ویلي، طالب زندانیان د ښه نیت په موخه خوشي شوي او باید له دغه کار څخه د ټاکنیز کمپاین لپاره استفاده ونه شي.

نوموړي د وزیرانو شورا د تېرې ورځې ناستې ته ویلي، که یاد زندانیان د «ټاکنیز کمپاین» په موخه خوشي شي، د سولې بهیر ته به هېڅ گټه ونه کړي.

هغه زیاته کړې: «د طالب زندانیانو خوشي کول د حسن نیت له مخې تر سره شوي، خو که چېرې دغه ډول اقدامات یو ځل بیا د کمپاین ښه ولري او د ټاکنیز کمپاین سره تړلي وبلل شي، بیا هغه خپل اصلي تاثیر له لاسه ورکوي».

عبدالله دا اندېښنه داسې مهال ښیي، چې ولسمشر محمد اشرف غني د تېر کوچني اختر په مناسبت په وینا کې د ۸۸۷ زندانیانو د خوشي کولو اعلان وکړ، چې تر دا مهاله د لسگونو بندیانو د خوشي کولو راپورونه هم ورکړل شوي دي.

ولسمشر غني هغه مهال وویل، چې یاد زندانیان د افغان سولې په اړه د مشورتي لویې جرگې غوښتنې ته په درناوي، د سولې په خبرو کې د باور رامنځته کولو په موخه خوشي کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې د مشورتي لویې جرگې یوه غوښتنه دا وه، چې افغان حکومت او طالبان دې د ښه نیت په موخه د یو او بل بندیان خوشي کړي.

تر هغه وروسته د افغان حکومت یوې سرچینې امریکا غږ ته ویلي، چې خوشي کېدونکي ټول زندانیان وسله وال طالبان دي، چې د افغانستان د ملي امنیت ریاست او عدلي او قضایي ارگانونو تر څېړنو وروسته خوشي کېږي.

په کابل کې د امریکا سفیر جان بس او وسله طالبانو د زندانیانو د خوشي کولو په اړه د افغان حکومت د یاد اقدام هرکلی کړی دی.

اجرایه رییس عبدالله عبدالله که څه هم په ښکاره ډول د کوم چا نوم نه یاد کړی، خو زیاته کړې یې ده چې د سولې بهیر په یوه شخص پوري اړه نه لري، بلکې ټول افغانان د سولې غوښتونکي دي.

هغه زیاته کړې: «په دغه هېواد کې یو شخص د سولې اتل نه شي کېدای. د افغانستان خلک سوله غواړي او د افغانستان د خلکو د غوښتنې ښه استازیتوب باید وشي».

عبدالله عبدالله داسې مهال دغه څرگندونې کوي، چې نوموړی خپله هم راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته ولاړ دی.

تر دې مخکې د ولسمشریزو ټاکنو نورو کاندیدانو هم ویلي وو، چې د زندانیانو له خوشي کولو څخه باید د ټاکنیز کمپاین لپاره استفاده ونه شي، خو ولسمشرۍ ماڼۍ ویلي چې یاد گام یې د مشورتي لویې جرگې غوښتنې ته په کتو پورته کړی دی.

## ولسي جرگه: کابو ۱۲۰ پخوانیو وکیلانو خپلې وسلې او امکانات نه دي سپارلي

د ولسي جرگې د دارالانشا اداري او پالیسي مرستیال ویلي، نږدې ۱۲۰ پخوانیو وکیلانو تر اوسه خپلې وسلې نه دي سپارلې.

که څه هم د ولسي جرگې د دارالانشا چارواکو د دغو وکیلانو نومونه نه دي اخیستي، خو په خبره یې تر اوسه نږدې ۱۲۰ پخوانیو وکیلانو خپلې وسلې او دولتي امکانات نه دي سپارلي.

د ولسي جرگې د دارالانشا اداري او پالیسي مرستیال رحیم الله غالب ازادي راډیو ته ویلي، دوی امنیتي ارگانونو ته رسمي مکتوب لېږلی، خو هغوی تر اوسه کوم اقدام نه دی کړی.

هغه زیاته کړې: «یوازې محدود کسان چې شمېر یې ۷ یا ۸ تنو ته رسېږي، خپلې وسلې یې سپارلې، خو ډېریو وکیلانو چې شمېر یې نږدې ۱۲۰ ته رسېږي، تر اوسه یې خپلې وسلې او مهمات شورا ته نه دي سپارلي. موږ رسماً له دوی غوښتي او امنیتي ارگانونو ته رسمي مکتوب لېږل شوی، خو تر اوسه په دې تړاو اقدام نه دی شوی».

دا په داسې حال کې ده چې راپورونه وایي، په لسگونو دولتي لوړپوړي کسان چې پخواني وزیران، والیان او ځینې نور کسان پکې شامل دي، پرته له دې چې اوسمهال کومه رسمي دنده ولري، د حکومت گران بیه او زرې نقلیه وسایط کاروي.

د قانون پر بنسټ، حکومتي چارواکي باید د دوی د دندې له ختمېدو سره دولتي امکانات خپلو اړوندو ادارو ته وسپاري، خو د ولسي جرگې ځینې غړي وایي، هغو وکیلانو چې خپلې وسلې او نور امکانات یې نه دي سپارلي، د ځینو حکومتي کړیو له خوا یې ملاتړ کېږي.

د دې جرگې غړي رمضان بشردوست یې په تړاو ویلي: «د دوی په واک کې لا هم دولتي موټر، وسلې، کارت او د ولسي جرگې ځانگړي «و-ج» موټر دي، چې گڼې ستونزې پیدا کوي او د دوی له خوا سخت مقاومت موجود دی او د یو شمېر حکومتي کړیو له خوا هم ترې ملاتړ کېږي».

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې ولسمشرۍ ماڼۍ ویلي، حکومت په دې برخه کې جدي دی او ټولو ارگانونو ته یې امر کړی، چې په دې اړه پلټنې وکړي او ټول دولتي نقلیه وسایط راوگرځوي.

ځینې افغان کارپوهان وایي، د وکیلانو له نومه په گټې اخیستنې، دا مهال په ښار کې بېلابېل جرمونه ترسره کېږي، نو پکار ده چې اړوندې اداري له دغو وکیلانو وسلې او نور دولتي امکانات چې د دوی په بدنامۍ تمامېدلای شي، را وگرځوي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily






سه شنبه د ۱۳۹۸ د غبرگولي ۲۸مه | د ۲۰۱۹ د جون ۱۸مه | دریم کال | ۳۸۹یمه گنه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily



| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۲۹ | ۳۵ | ۳۹ | ۳۷ | ٤٠ | ۳۲ |
| ۱۱ | ۱۸ | ۲۰ | ۲۲ | ۲۳ | ۱۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۵ | لمر ختل ۰٤:٤۰ | ماسپښین 11:55 | مازیگر ۰۳:٤۱ | ماښام ۰۷:۰۹ | ماخوستن ۰۸:٥٤

## نړۍ




## حوثیانو په یمن کې د امریکا بې پیلوټه الوتکه نسکوره کړې ده


U.S. Air Forc (Reuters)

د امریکا پوځ ویلي، حوثي یاغیانو روانه میاشت په یمن کې د امریکا یوه بې پیلوټه الوتکه د ایران په مرسته ویشتلې او نسکوره کړې ده.
د امریکا د مرکزي قوماندانۍ ویاند ایرل براون په یوه اعلامیه کې ویلي، چې د امریکا «MQ-۹» ډوله بې پیلوټه الوتکه د جون میاشتې په شپږمه د حوثي یاغیانو لهخوا په یمن کې ویشتل شوې ده.
د براون په خبره، په کومه ارتفاع کې چې دا بې پیلوټه الوتکه ویشتل شوې، د حوثي یاغیانو د وړتیا زیاتېدل او دا واقعیت په ډاگه کوي چې دغو یاغیانو له ایران څخه مرسته تر لاسه کړې ده.
د امریکا د مرکزي قوماندانۍ ویاند دغه راز ویلي، ایران په یوه بل مورد کې هم هڅه کړې چې د جون په ۱۳مه په عمان خلیج کې د امریکا یوه بله بې پیلوټه الوتکه نسکوره کړي، څو د تېلو پر دوو لېږدوونکو بېړیو د ایران د برید د څارل کېدو هڅې گډې وډې شي.
د حوثیانو د نظامي ځواک د پیاوړتیا په اړه دغه اندېښنې داسې مهال دي، چې دوې ورځې وړاندې هم دغو یاغیانو د سعودي عربستان پر دوو هوایي ډگرونو د بې پیلوټه الوتکې په مرسته بریدونه وکړل، چې مرگ ژوبله یې هم درلوده.

## ستاکهولم انستېټیوټ:
## په نړیواله کچه هغه اټومي وسلې کمې شوې چې د پیاوړو هېوادونو له خوا ساتل کېږي



د ستاکهولم د سولې نړیوال څېړنیز انستېټیوټ په خپل نوي راپور کې ویلي، تېر کال د هغو اټومي وسلو شمېر کم شوی چې د نړیوالو قدرتونو له خوا ساتل کېږي.
یاد څېړنیز انستېټیوټ ویلي، د مسکو او واشنگټن ترمنځ د روانو سیاسي او پوځي اختلافونو له کبله معلومه نه ده، چې په راتلونکي کې به د دغو وسلو شمېر کم شي او که څنگه.
د سولې یاد نړیوال څېړنیز انستېټیوټ دغه راز په خپل کلني راپور کې ویلي، د ۲۰۱۹ زېږدیز کال په پیل کې روسیه، د امریکا متحده ایالاتونه او اووه نور هېوادونه ۱۳ زره ۸٦٥ اټومي وسلې لري.
د نوموړي اداري په خبره، د ۲۰۱۸ زېږدیز کال په پیل کې د دغو وسلو شمېر ۱٤ زره ٤٦٥ ته رسېده.
د دغه څېړنیز انستېټیوټ راپور زیاتوي، د اټومي وسلو شمېر تر ډېره په روسیه او امریکا کې کم شوی چې دواړه د ټولو اټومي وسلو ۹۰ سلنه لري.
د یادونې ده چې د ستاکهولم د سولې نړیوال څېړنیز انستېټیوټ یوه نړیواله اداره ده، چې هر کال په نړۍ کې د اټومي او نورو خطرناکو وسلو ترځنگ د نورو مسایلو په تړاو کلنۍ څېړنې کوي.

## اداره ثبت دارایی های مقامات دولتی:
## پنج هزار مقام دولتی دارایی های شان را ثبت نکرده اند



ادارهٔ ثبت و بررسی دارایی های مقام های عالی رتبه دولتی، در حالی به اقدامات جدی در ادای مسئولیت خود تأکید می کند که به گفتهٔ برخی آگاهان امور، این اداره باید به دلیل عدم مؤثریت آن لغو شود.
ادارهٔ یادشده، در سال ۱۳۸۸ خورشیدی به هدف جلوگیری از فساد مالی از طریق ثبت دارای هایی مقام های بلندرتبهٔ دولتی ایجاد شده است.
به اساس معلومات عبدالودود بشریار رئیس این اداره، اعضای شورای ملی و تمام مقام های رتبه اول و بلندتر از آن باید دارایی های شان را ثبت کنند.
موصوف افزوده‌است، این مقام ها در صورتی که حین انجام وظیفه سرمایه بیشتر از عاید شان را به دست آورده باشند، به ارگان های عدلی و قضایی معرفی می‌شوند.
بشریار به آژانس خبری پژواک گفته است که از زمان تاسیس این اداره تا حال، در حالی حدود ۱۷ هزار تن از مقام های بلند رتبه دولتی دارایی ها شانرا در این اداره ثبت کرده اند که ۲۲ هزار تن واجد شرایط ثبت دارای ها می‌باشند.
او نامی از کسانی را که دارایی های شان را ثبت نکرده نگرفت؛ اما افزود، در صورتی که مقامات دارایی ها شانرا ثبت نکنند، نام های شان با رسانه ها شریک می‌شود.
موصوف گفته است که ثبت دارایی های مقامات جدی گرفته شده و هیچ مقام دولتی از این امر استثنی ندارد.
وی در پاسخ به سوالی که تا حال با چه تعداد از مقام ها به اساس ثبت دارایی ها محاسبه شده؟ گفته است: «دارایی های ۵۰۰ مقام دولتی تحت بررسی این اداره قرار دارد و در صورتی که تخلف دیده شود، متخلفین به ارگانهای عدلی و قضایی معرفی می‌شود، تاکنون معاش چند مقام دولتی به دلیل تخلف به تعلیق در آمده است».

## ژوند

## د جون اوولسمه له وچکالۍ سره د مبارزې نړیواله ورځ

پرون د جون اوولسمه د وچکالۍ پر ضد د مبارزې نړیواله ورځ وه. دا ورځ په نړۍ کې د دښتو د سمسورولو او د شاړو ځمکو د تخریب د مخنیوي د هڅو په موخه نمانځل کېږي. ملگرو ملتونو له ۱۹۹۴ زېږدیز کال راپدېخوا د جون اوولسمه د ځمکو د تخریب او د وچکالۍ د مخنیوي (WDCD) نړیواله ورځ اعلان کړې ده. د ځمکو د تخریب د مخنیوي او له وچکالۍ سره د مبارزې یوه لار په عمومي ډول د چاپېریال ساتنې په اړه د عامه پوهاوي تر لاسه کول دي. دغه ورځ موکه برابروي، چې هېوادونه، بنسټونه او خلک په خپلو هېوادونو، سیمو او کلیو کې د دې پېښو مخه ونیسي.
د وچکالۍ، د ځمکو تخریب او په بیابان بدلېدل په اصل کې په وچو، نیمه وچو او نیمه مرطوبو سیمو کې رامنځ ته کېږي.
ولې له وچکالۍ او د ځمکو د تخریب د مخنیوي نړیواله ورځ رامنځ ته شوه؟
د نږدې یو میلیارد کسانو ژوند په مستقیم ډول د ځمکو د تخریب تر اغېز لاندې دی. د ملگرو ملتونو سازمان اعلان کړی، چې تر ۲۰۴۵ ز کال پورې به نږدې ۱۳۵ میلیون کسان له همدې کبله بې ځایه شي. د دې پېښې یو لامل په ځمکو کې د زیات ریگ موجودیت هم په گوته شوی دی. دغه راز که د ځمکې له مخ څخه په دوامداره توگه ونې او بوټي د بېلابېلو عواملو یا مصرف له کبله لرې کړای شي، شونې ده چې دغه ځمکې له تخریب سره مخ شي او د وچکالۍ شونتیا څو برابره کړي.



څه باید وکړو چې د ځمکو د تخریب او وچکالۍ مخه ونیسو؟
اوبه د نړۍ ارزښت لرونکي طبیعي سرچینه ده، چې د انسان په ژوند کې حیاتي ارزښت لري. اوبه باید په سمه توگه مدیریت کړای شي او د سیمې هوا او اقلیم ته په کتو مناسبې مېوه دارې او بې مېوې ونې کېښودل شي. د اوبو د مدیریت لپاره لازمه ده چې بهېدونکې اوبه مهار شي، د امکان په صورت کې کارول شوې اوبه له تصفیې وروسته بیا وکارول شي او د بارانونو اوبه ذخیره شي. د انسان ژوند له اوبو سره تړلی دی. د اوبو سپما د اوبو بقا ده. کله چې یوه سیمه اوبه ولري، هېڅ وخت له تخریب سره نه مخ کېږي. د اوبو په سپما سره کولای شو چې د نورو انسانانو ژوند وژغورو. د اوبو سپما زموږ او ستاسو ټولو گډ مسوولیت دی. راځئ چې دغه ستر مسوولیت په خورا امانتدارۍ سره تر سره کړو، څو هم خپل او هم د نورو ژوند وژغورو. حکومت ته پکاره ده چې په دې برخه کې خپل مسوولیت ادا کړي. د ځنگلونو د وهلو، په خپل سرو ژورو ځاگانو کیندلو مخه ونیسي.